


د ۲۰۲۰ په اګست میاشت کې د افغانستان په هرات ولایت کې یوه ډله خلک د سولې د دیوالي انځور له مخې د تېرېدو په حال کې دي. پر دېوال باندې له لیکنې مطلب عبارت دی له: "د خلکو د سولې خوځښت"، دا هغه ډله ده چې په ټول افغانستان کې د سولې ډېر شمېر پرلتونو/لاریونونو په تنظیمولو کې ښکېل دی. انځور: الهه صالح

# ځکه چې هغه اهمیت لري

## په افغانستان کې د سولې په تینګښت کې د ښځو له بشپړ ګډون څخه ډاډ ورکول

**په داسی حال کی چی د افغانانو نر منځ خپل منځی خبری اتری پیل شوی؛ خو په افغانستان کې دوامداره سوله لاتراوسه له واقعیت څخه لرې خبر ده. د سولې روانې هڅې د ښځو بشپړ ګډون له پامه غورځولی: ښځو ته له پنځوغونډو څخه یواځې په یوه کې د ګډون حق ورکول کېږي. شواهد ښیي چې کله ښځې په مذاکراتو کې بشپړ رول ولري، سوله نوره هم پایداره او ثابته وي. افغان او نړیوال فعالان باید په ملي او سیمه‌ییزه کچه د رسمي او غیررسمي مذاکراتو په ټولو پړاوونو کې باید د ښځو پر ګډون فشار راوړي. په دې څېړنه کې د ټولشموله سولې له لورې جوړ شوي د ګډون د پراختیا چارچوب اوه ماډلونه کارول شوي دي تر څو په سوله کې په مانادارہ توګه د افغان مېرمنو د یوځای کولو لپاره عملي لارې چارې په ګوته کړي.**

Cordaid
INCLUSIVE PEACE
#IMatter STAND WITH ME
OXFAM

## لنډیز

د طالبانو د حکومت له رانسکورېدو وروسته، په افغانستان کې میرمنو د خپلو حقونو او د هغوی د غړونو د اورېدو لپاره د پام وړ ګامونه اخیستي دي. په سیمه‌ییزې کچې سره د سولې په رامینځته کولو کې د ګډون او د ښځو د ونډې په اړه د سیاسي انګېرنو سربېره، میرمنې لاهم د هېواد د سولې په پروسو کې له معقول[1] ګډون څخه بې برخې شوې دي. د بېلګې په توګه، په دوحه کې د متحده ایالاتو او طالبانو تر منځ له ۲۰۱۸ نه تر ۲۰۲۰ پورې د خبرو اترو ۱۱ پړاوونه ترسره شول. که چېرې دوی ته پکې ګډون ورکړل شوی هم وي، دا ډېرځله د غیررسمي مدني ټولنې د یوې برخې په توګه ترسره کیږي او یواځې څو تنه مېرمنو ته پکې ګډون ورکول کیږي.

لیکوالانو د 2005 او 2020 ترمنځ په ټولیز ډول 67 څېړنیز ناستو، رسمي او غیر رسمي خبرو اترو او په نړیواله کچه ملاتړ لرونکو سلامشورو ته بیاکتنه کړې، او موندلې یې ده چې میرمنو یوازې 15 غونډو کې شتون درلود چې ۲۲ سلنه جوړوي. د کووېډ-۱۹ وبا د سولې بین الافغاني خبرو ځنډولو او خپلو کورونو ته د مېرمنو بیرته ورتېلوهلو له کبله نورې ننګونې هم رامنځته کړې دي.

په اسانۍ سره د سولې په بهیرونو کې د ښکېلو میرمنو شمېر ښایي د هغوی اغېزه په اړینه توګه پیاوړې نکړي. ښځې باید د خبرو اترو د هر پړاو یوه لازمي او اړینه برخه وګرځول شي، او له نورو استازو سره اوږه په اوږه کار وکړي.

دا راپور په تېر کې د افغانستان د سولې په پروسو کې د ښځو د ګډون او ښکېلتیا څرنګوالی تحلیلوي او په راتلونکې کې د هغوی د معقول ګډون د پیاوړي کولو لپاره د فرصتونو عملي لیدلوري چمتو کوي. په دې راپور کې د ټولشموله سولې راوستلو لپاره اووه ماډلونه کارول شوې دي چې د ګډون د پراختیا څېړنیزه پروژه کې د تانیا پافینهولز او ټولشموله پروسې سازمان له لوري په ګوته شوي:

1. د مذاکراتو پر میز باندې مستقیم شتون؛
2. د نظارت کوونکي دریځ؛
3. سلامشورې؛
4. ټولشموله کیسیونونه؛
5. (د لوړې کچې) د ستونزې حلولو ورکشاپونه؛
6. عمومي پرېکړه نیول؛
7. ډله‌ییز اقدام.

په افغانستان کې د سولې په راوستو کې د ښځو د ګډون د زیاتوالي لپاره ډېر شمېر فرصتونه ندي کارول شوي. روزنې او د خبرو اترو اړونده پروګرامونه د میرمنو ظرفیت لوړوي او ډیالوګ ته لاره هواروي، خو پریکړو نیونکو لپاره د اړیکو پیاوړو کړښو نشتوالی د هغوی اغېزمنتیا محدوده کړې. هغه رول چې مېرمنو او د مېرمنو اړونده سازمانونو، د طالبانو له لوري کنټرولېدونکو سیمو په ګډون په کورنیو او د سیمه‌ییزو شخړو په مدیریت کې واردمخه لوبوي، ډېرځله د نړیوالو ملاتړ کوونکو ادارو له پامه غورځول شوی چې په ملي کچه د مېرمنو اړونده سازمانونو سره په لوړه کچه مرستې کوي.

ښځې یوه همغږې ډله نده او په یو غږ سره خبرې نشي کولی. هغوی بېلابېلې اړتیاوې، لومړیتوبونه او سیاسي اندونه لري. د مېرمنو له بېلابېلو اړخونه باید د محدود شمېر مشهورو ښځو پر ځای په پرېکړو نیولو کې شتون ولري.

سربېره پردې، په سلامشورو کې د ښځو ګډون ډېرځله د ښځو د حقونو، جنډر، یا ورکشاپونو پورې اړوند موضوعاتو پورې چې د ښځو لپاره ځانګړي شوي وي، محدود  وي. میرمنې باید د ټولو حاضرینو تر منځ ښکاره شتون ولري او خبرو اترو کې شاملې شي ترڅو په خبرو اترو او مذاکراتو کې پر اړونده ټکو خپله اغېزه او نفوذ ډېر کړي. موږ باید په جلا ډلو او ادارو کې د میرمنو ادغام لپاره له ملاتړ ورهاخوا هڅه وکړو او پرځای یې داسې ګډ پروګرامونه جوړ کړو چې د ټولنې بیلابیل نارینه او ښځینه اړخونه پکې ګډ کار وکړی شي.

د سولې مذاکراتو کې د اغېزمن ګډون لپاره باید ښځې له پیل څخه بیا تر پایه ټولو پړاوونو کې ښکېلې وي. له حزب اسلامي سره د ۲۰۱۶زیږدیز کال سولې خبرو کې ښځینه غړ مخکښ رول ولوباوو او یو داسې معیار یې رامنځته کړ چې له مخې یې مدني ټولنه، د افغانستان پارلمان او نړیوال مرسته کوونکی  باید د افغانستان حکومت مسوول وګڼي.

که چېرې افغانستان غواړي خپل ۴۰ کلن جنګ په دایمي ډول ختم کړي، د سولې په پروسه کې باید ښځې هم ګډون وکړي. په نړۍ کې د سولې پروسو اړونده څېړنو او تجربو ښودلې چې کله ښځې په دغو پروسو کې ګډون وکړي، سوله هم په ډېر احتمال سره دوامداره

وي. خو د سولې پروسې بنايي یوازې هغه مهال د ښځو د ګډون له مثبت اغېز لاندې راتلی شي، چې کله ښځې ریښتینې اغېزه او نفوذ ولري.

## د افغانستان دولت لپاره سپارښتنې:

- **د بین الافغاني سولې خبرو اترو او له هوکړې وروسته د تطبیق په ټولو پروسو او کچو کې د بېلابېلو ښځوینه اړخونو د ګډون لپاره د ونډو او سهمیو پر کارولو ټینګار کول،** په ځانګړې توګه د خبرو اترو پر میز او له شخړو وروسته افغانستان په بدلون کې د ښځو مستقیم او له مانا ډک ګډون. افغان دولت باید د ښځو په سمبولیک استازیتوب یا یو کم شمېر مشهورو اشخاصو پورې د ښځو غړ محدودولو سره بسنه ونکړي. افغان دولت باید ډاډ ورکړي چې ښځې له هغو مسایلو ورهاخوا چې پر جندر او د ښځو پر حقوقو پورې تړاو لري، په بشپړه او له وړاندې هغو پرېکړو کې شاملې دي چې د افغانستان راتلونکي ته بدلون ورکولی شي.

- **له بېلابېلو مدني ټولنو – په ځانګړې توګه د ښځو ډلو سره د سلامشوریزو دوامداره بحثونو لپاره لاره هوارول** – د سولې پروسې نه مخکې، د پروسې په بهیر کې او وروسته له سولې پروسې څخه تر څو د لازیاتو نظرونو او اندونو لپاره فرصتونه رامنځته شي. دولت باید دې ته هم لاره هواره کړي چې دا نظریات او اندونه لوړپوړو پرېکړه نیوونکو له لوري په پام کې نیول کیږي.

- **د دولت له خوا د سولې وزارت په کاري ځواک او مشرتابه کې د بېلابېلو ښځو له شتون څخه ډاډ ورکول،** چې باید د سولې په شورا کې په ملي، ولایتي او سیمه‌ییزه کچه د ښځو له مانا ډک ګډون، اغېزې او مشرتوب لپاره په هڅو کې یو فعال رول ولوبوي. وزارت باید ولسوالی او ملي کچو تر منځ د چینلونو او اړیکو لپاره لانوره اسانتیا رامنځته کړي.

- **د اوو ماډلونو په اوړدو کې د ښځو له مانا ډک ګډون څخه ډاډ ورکولو او پیاوړي کولو لپاره** د فرصتونو رامنځته کول، لکه د ستونزې حلولو ورکشاپونه او رسمي کیسیونونه.

## د مدني ټولنې او مرسته کوونکو په ګډون د نړیوالو ذیدخلو ادارو لپاره سپارښتنې:

- د هغو سیمه‌ییزو سولې راوستونکو ابتکارونو، د خلکو اړونده خوځښتونو او مدني ټولنې سازمانونو بشپړ ملاتړ کول چې د ښځو له خوا یې مشري کیږي. دا مرستې له اوږدمهاله او بېلابېلو مرستو، د مېرمنو شبکو تر منځ د یووالي راوستلو لپاره لار هوارولو، او اړیکو جوړولو او د ګډ ملاتړ کارونو ترسره کولو په موخه افغان مېرمنو لپاره کاري پروګرامونو رامنځته کولو څخه عبارت دي. نړیوالې ذیدخله اداري باید **د ظرفیت جوړونې او د هغوی د ملاتړ جلبولو د پیغامونو پیاوړي کولو له لارې د افغان مېرمنو او د مېرمنو د شبکو د ملاتړ جلبولو او کمپاینونو هڅو څخه ملاتړ وکړي.**

- **د هغو چینلونو لپاره اسانتیا رامنځته کول چې افغان مېرمنو او د سولې رسمي او غیررسمي پروسو تر منځ اړیکه جوړوي.** د سیمه‌ییزو او ملي پروسو تر منځ د اړیکو د چینلونو پیاوړي کول، او د غیررسمي خوځښتونو او ډېرو رسمي، مسلکي مدني ښکېلتیاوو تر منځ د ارتباطاتو رامنځته کول. نړیوالې ذیدخله اداري باید په دغو شوراګانو کې د **سولې شوارګانو او ښځو د مشرتوب د پیاوړي کولو** ملاتړ وکړي.

- د مدني ښکېلتیا لپاره د پیاوړي چاپېریال رامنځته کولو سره مرسته کول او په افغانستان کې د ډلهییز اقداما له خوځښتونو، په ځانګړي ډول د ښځو له لوري مخته وړونکو او ټولشموله خوځښتونو څخه **د مدني ښکېلتیا او د خلکو د غږونو لپاره د فضا رامنځته کولو او خوندیتوب له لارې** ملاتړ کول؛ د ګواښونو او بریدونو پر وړاندې **ډیپلوماتیک ملاتړ او خوندیتوب چمتو کول،** هغه مهال **غږ پورته کول** چې د ډېرو منزوي شوو خوځښتونو غږونه چپ شوي وي، او **د خطر مدیریت لپاره د مالي ملاتړ** برابرول. نړیوال فعالان باید **د مدني ډلهییز اقدام لپاره د سیاسي ملاتړ جلبولو لپاره** له خپلې اغېزې کار واخلي – لکه د قوانینو او پالیسیو د پیاوړي کولو لپاره د ملاتړ جلبول – او **د مدني فضاوو په اړه د مثبتو روایاتو ترویجول.**

# یاددابنتونه

[1] معقول او له مانا ډک ګډون دلته د یو پراخ مفهوم په توګه پېژندل کیږي چې د مختلفو خو اساسي درجو لرلو سره ځلور عناصر سره یوځای کوي: ۱. پر پروسې او پایلو باندې د نفوذ او اغېزې واردولو وړتیا؛ ۲. د اګاه پرېکړو نیولو او تر اغېز لاندې راوستلو په موخه د فرصتونو ترلاسه کولو لپاره شتون درلودل؛ ۳. د اجنډا جوړولو او ایتلاف رامنځته کولو له لارې د اداري پراختیا؛ او ۴. په اغېزمنه توګه د مېرمنو ګټو ځخه د استازیتوب لپاره په خپل ځان د اغېزمنتیا او پوهې باور کول. دا مفهوم د سولې مذاکراتو کې د ښځو د معقول ګډون او د سولې د هوکړې د پلي کولو په اړه د کارپوهانو د ډلې د غونډې راپور ځخه اخیستل شوی. دا غونډه د ښځو، سولې او امنیت په اړه د ملګرو ملتونو عمومي منشي د ۲۰۱۸ راپور لپاره د چمتووالي په موخه د ملګرو ملتونو ښځو سازمان له خوا نیول شوی وو (۲۰۱۸، ۱۶-۱۷ مې).

د سپتمبر په ۲مه له لاندې لینک ځخه راخیستل شوي:

-/https://www.unwomen.org
media/headquarters/attachments/sections/library/publications/2018/egm-womens-meaningful-/
peace-en.pdf?la=en&vs=3047-participation-in-negotiating

© د اکسفام نړیوال سازمان، کورډایډ او د ټولشموله سولې لپاره اتحادیه، سپتمبر ۲۰۲۰

دا ښېرنیز راپور د جوریت کامیګا، لوتجی بوسوینکل او تمارا ګوت له لوري لیکل شوی. د راپور لیکوالان له انا تونیلی، چې د دویمې برخې ځینو جزونو په اړه ښېړنه ترسره کړه او همدارنګه تانیا پفینهولز، دانا لنداو او ایکهارد وولکمن څخه د ماډلونو په اړه د هغوی ژورو تبصرو لپاره په ځانګړې توګه مننه کوم. همدارنګه، لیکوالان د روبي اجاني، فضل امیري، این بالتادونیت، سیارن برین، انا چیرنووا، مارک کوهین، منیژه احسان، لیلي ګارډنر، جاولون همداموف، امنه هیرسی، فلورجی کلیجن، سوینګ لای، انابیل موریسی، جیمز مورریسی، رخسانا موریل، سارا پیلم، الیکس شوبریج، فیونا سمیت، میثم زارورا او اکرم ذکی څخه د راپور په جوړولو کې له مرستو مننه کوم. دا ښېړنه د "د نړیوالې اغېز اچوونکې شبکې پر لور" د ستراتیژیکې همکارۍ برخه ده چې اکسفام نوویب (Oxfam Novib) او د څوملیتي همکاریو د ښېړنې مرکز (SOMO) د هالنډ د بهرنیو چارو وزارت سره یوځای د Safhe Jaded پروژې په تړاو ترسره شوې چې همغږي یې د AWEC، کورډایډ (Cordaid) سازمان او اکسفام نوویب (Oxfam Novib) له لوري شوې او مالي مرستې ورته د هالنډ د بهرنیو چارو وزارت له لوري برابرې شوي.

د دغه راپور په اړه د راپورته شوو مسایلو په اړه د نورو مالوماتو لپاره په مهربانۍ سره په لاندې ادرس ایمیل واستوئ:
suying.lai@oxfamnovib.nl

دا خپرونه د چاپ حق لري، خو متن یې د ملاتړ جلبولو، کمپاین ترسره کولو، ښوونې او روزنې، او ښېړنې په موخه په وړیا توګه په دې شرط کارېدلی شي چې سرچینه په بشپړه توګه منل شوې وي. د چاپ حق لرونکي دا غوښتنه کوي چې دا ډول ټولې کاراخیستنې باید له دوی سره د اغېزې د ارزونې د مقاصدو لپاره ثبت او راجستر شي. په نورو حالاتو او یا په نورو خپرونو کې د کاپي کولو، د ژباړې او یا ځای پر ځای کولو په صورت کې، باید اجازه واخیستل شي او ښایي فیس هم ورباندې وټاکل شي. لاندې ایمیل سره اړیکه ونیسئ:
policyandpractice@oxfam.org.uk

مطبوعاتو ته د تلو پر مهال د دې خپرونې مالومات سم دي.

د اکسفام GB له لوري د اکسفام نړیوال سازمان لپاره د ۲۰۲۰ کال په جولای کې د ISBN XXX-X-XXXXX-XXX-X نمبر په لرلو سره خپور شوی.
اکسفام GB، اکسفام کور، جان سمیت ډرایو، کولی، اکسفورډ، OX4 2JY، انګلستان.

## اکسفام

اکسفام د ۱۹ سازمانونو یو نړیوال فدراسیون دی چې د بېوزلۍ له بې عدالتۍ څخه ازادې راتلونکې جوړولو په موخه د بدلون لپاره د یو نړیوال خوځښت د یوې برخې په توګه، په یوځایي ډول له ۹۰ څخه ډېرو هېوادونو کې فعالیت کوي. په مهربانۍ سره، د نورو مالوماتو لپاره کولی شئ هرې اداري سره په اړیکه کې شئ، یا له www.oxfam.org څخه لیدنه وکړئ.

## کورډایډ

کورډایډ د نړۍ په ډېرو کمزورو او د شخړو له کبله اغېزمنو سیمو کې او همدارنګه په هالنډ کې د بېوزلۍ او محرومیت د پای ته رسولو لپاره کار کوي. کورډایډ د باور او مقاومت رامنځته کولو او د خلکو پر ځان تکیې ډېرولو لپاره ټولنې له یو بل سره یوځای کوي.

## د ټولشموله سولې اتحادیه

د ټولشموله سولې اتحادیه له سیمه‌ییزو فعالانو او د سیاسي انتقال پر مهال د هغوی ملاتړ کوونکو سره مرسته کوي، په سیمه‌ییزه او نړیواله کچه د دوامدارې سولې او ټولشموله ټولنو په اړه د تبادلې لپاره پرانسته فضا رامنځته کوي. مونږ دا کار د سلامشورو، امکاناتو او د ټولشموله ټولنو لپاره د لارو چارو تر ډېره هراړخیز ستراتیژیک لیدلوري او د لنډمهاله ستونزو حل تر منځ د اړیکې رامنځته کولو له لارې ترسره کوو